# سل ځېرې، سل تجربې

د نړۍ د مشهورو او اغېزناکو ځېرو د ژوند تجربې

Ketabton.com

حبیب الرحمن ورسز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سل خبرې، سل تجربې

د نړۍ د مشهورو او اغېزناکو خبرو د ژوند تجربې

ژباړن: حسیب الرحمن نورمل
۰۷۸۷۸۱۱۲۱۰
ډیزاین چارې: حسیب الرحمن ساحل
چاپځی: وایګل چاپ
چاپ وار: لومړی
چاپ کال: ۱۳۹۸ / ۲۰۱۹
بیه: **۱۰۰** ؋

ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له ژباړن سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## همدا تا ته د ډالۍ وي چې اوس یې لولې

نــــورمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب په اړه څو خبرې

ژوند دومره اوږد نه دی چې هر څه په خپله پکې تجربه کړو، باید د نورو له تجربو هم ګټه واخلو. هر هغه څه چې نورو په ځلونو تجربه کړي وي، مجبور نه یو چې هرو مرو هغه موږ هم تجربه کړو، څه چې نورو تجربه کړي وي او پایلې یې په ډاګه شوې وي، ښه ده چې موږ یې د تجربې پر ځای له پایلې درس واخلو، په دې سره به مو یو وخت سپما شوی وي او بل به مو د بریا او پرمختګ لپاره تر د شنه څراغ ګټه هم اخیستې وي.

دا ځل مې هڅه کړې چې د نړۍ د مشهورو پوهانو، فیلسوفانو، شاعرانو، لیکوالانو، سیاسي رهبرانو، میلیاردرانو(شتمنو) او بریالیو څېرو د ژوند تجربې او اغېزناکې ویناوې را ټولې او د یو کتاب په بڼه یې چاپ کړم، څو لوستونکي خپلو نېکو هیلو ته د رسېدو پر لار ترې استفاده وکړي او خپلو هیلو ته ورسېږي. مشران تل د خپلو تجربو پر بنسټ خبرې کوي، هغوی دا را زده کوي چې څنګه خپلو موخو ته رسېدلي دي، که موږ هم د هغو لار تعقیب کړو او پر لارښوونو یې عمل وکړو، لرې به نه وي چې موږ به هم یو وخت د دوی په څېر بریالي او اغېزناک کسان شو.

هیله ده کتاب درته په ژوند کې ګټور تمام شي او زما هڅه او زیار یو څه ځای ونیسي.

حسیب الرحمن نورمل

سپوږمۍ راډیو

۰۷۸۷۸۱۱۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱»




زه د ملت خادم يم، تل مې د ټول افغان ولس د خير او پرمختګ فکر کړی، هېڅکله مې د ولس له سلا او مشورې پرته کار نه دی کړی، همدا دليل دی چې په خپلو موخو او فکرونو کې بريالی يم او کوم کار ته مې چې لاس اچولی، په ډېر ښه ډول پکې بريالی شوی يم.

(غازي امان‌الله خان – د افغانستان پخوانی پاچا او د خپلواکۍ اتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۲»




قرانکریـم یـو نړیـوال قانــون دی، دا پـه رښــتیا د عدالــت او برابــرۍ قانــون دی، کــه دا قانــون د نــړۍ پــه هــر هېــواد او ســیمه کــې پلــی شي، پـه هماغـه هېـواد او سـیمه کـې بـه د انسـانیت ټولـې سـتونزې حـل شي. اړینـه ده چـې هـر څـوک پـه خپـل ژونـد کـې لـږ تـر لـږه یـو ځـل دا قانـون ولـولي او ځـان پـرې پـوه کـړي.

(ډاکتر ذاکر نایک – د اسلامي نړۍ ستر دیني عالم او بانفوذه شخصیت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳»



بـد خلـک بایـد لـه ځانـه لـرې کـړو، حتــی کـه هغـه مو نـږدې دوسـتان او ملگــري هــم وي؛ ځکــه همــدا بــد خلــک مــو ډېــر زیانمنــوي. د پښــتنو لویـه سـتونزه دا ده چــې د ښــو او بـدو خلکـو یـا د حـق او ناحـق ترمنـځ توپیـر نـشي کولـی؛ ځکـه خـو پښـتون د ځمکـې پـرسر تـر ټولو زیانمـن قـوم دی.

(خان عبدالغفار خان (پاچا خان) – د عدم تشدد لارې لوی مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۴»



زه د دولت یو مقتدر او دقیق سړی یم، په ښي لاس کې مې توره ده چې د حق لپاره یې چلوم، غیرتي او عزتمن سړی یم، له هیڅ لوی یا وړوکي، لري یا نږدې کس لخوا پر قانون لوبې کول او منلډې وهل نه منم.

(صدام حسین – د عراق پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۵»



څومره مې چې تجربه پخېده، اړيکې مې پراخېدلې، او له خلکو سره مې راشه درشه کوله، هغومره زيات پردې باوري کېدم چې«لوړې زده کړې د يو ښه رهبر جوړېدلو لپاره اړين شرط نه دی».

(نېلسون مانډېلا – د جنوبي افريقا پخوانی جمهور رييس او د عدم تشدد لارې مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



«٦»



موږ (افغانانو) تل جګړه ګټلې، خو سیاست مو بایللی دی.

(حامد کرزی – د هېواد پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷»



هغـه مهـال چـې د پوهنتـون محصلـه وم، کلـه بـه مـې چـې د يـوې موضـوع پـه اړه خـبرې کولـې، نـو نارينـه محصلينو بـه زمـا د وارخطايـۍ او سـپکولو هڅـه کولـه، د محصلينـو دغـه ډول چلنـد نـه يـوازې زمـا د پرمختـګ مخـه ډب نـه کـړه، بلکـې د لا پرمختـګ سـبب مـې شـو او د سـياسي هلـو ځلـو پـر مهـال يـې راسره زياتـه مرسـته وکـړه.

(هېلري کلېنټن –د امريکا د بهرنيو چارو پخوانۍ وزيره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۸»



ځينــې خلـک فکـر کـوي چــې قـوي خلـک هغـه دي چــې هېڅکلـه درد احسـاس نـه کـړي، خـو نـه؛ زه وايـم «قـوي خلـک هغـه دي چــې درد احسـاس کـړي، خـو لـه درد سره کلکـه مبـارزه وکـړي».

(مجيد سميعي – ايرانی طبي ډاکتر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«۹»**



په ژوند کې په دې سخت پښېمانه یم، چې خلکو ته به مې پرته له حق الزحمې کار کاوه، ځکه ددې پرځای چې مننه را څخه وکړي، له اخره به یې راپسې ویل: «چینو احمق دی».

(آل چینو – امریکایی فلمي لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۰»




جالبـه ده؛ خلکـو د آزادۍ لپـاره تابـوت جـوړ کـړی او د مينـې لپـاره يـې سرحـد ټاکلـی، افسـوس چـې خلـک پـه دې نـه پوهيـږي «ازادي پـه تابـوت کـې مـري او مينـه هېـڅ سرحـد نـه پيـژني».

(ارنستو چګوارا – مشهور انقلابي مارکسيست او د کيوبا د چريکي جګړو رهبر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۱»




هـر څـوک چـې لـه مـوږ څخـه د واک او اختيـار اخيسـتو هڅـه کـوي، هغـوی پـه خپلـو سرونـو لوبـې کـوي؛ ځکـه مـوږ د خپـل اختيـار لپـاره د ژونـد تـر وروسـتۍ سـلګۍ پـورې جنګېـږو.

(ملا محمد عمر مجاهد – په افغانستان کې د اسلامي امارت پخوانی مشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۲»




په رحمان باندې دا عمر هسې تېر شو
لــــکه تېر شــو يو ســــاعت په دا دنـيا

(رحمان بابا – د پښتو ژبې لوی صوفي شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۳»





هېڅکله مې دا هڅه نه ده کړې چې بریالی کس دې وم، خو دا هڅه مې تل کړې چې یو ارزښت لرونکی شخص وم، انسان که هرڅومره بریالی وي، خو چې ارزښت ونه لري، هغه تر ټولو ناکام انسان دی.

(البرټ انشټین – الماني فزیکپوه او مخترع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۴»




په ژوند کې مې سختې او سترې ضربې وخوړلې، د همدې ضربو له برکته مې دا زده کړل « باید پرته له ځانه پر بل چا تکیه ونشي».

(اورین یالوم – مشهور امریکایی لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۵»



کله چې ناهیلی شم، ژر دا را په یاد کړم «هر وخت د تاریخ په اوږدو کې حقیقت او مینه بریالي شوي دي».

(مهاتما ګاندي – د هند سیاسي رهبر او د عدم تشدد لارې لاروی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱٦»



پوهېږم زيات خلک رانه کرکه کوي، غير انساني چلند راسره کوي، ښايي گناه مې دا وي چې د خپل پښتون ولس د حقونو لپاره مبارزه کوم، خو زه تل له داسې خلکو سره انساني چلند کوم، مينه او محبت ورسره کوم؛ ځکه پښتانه اخلاقي ارزښتونو ته ژمن دي. زه پښتون يم، پښتانه د مينې او محبت خلک دي، هغوی پر انسانيت باور لري.

(منظور پښتين- د پښتون ژغورنې غورځنگ مشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۷»



زه هېڅکله په دې اړه اندېښنه نه کوم چې خلک به زما په اړه څه فکرکوي، خلک اصلاً زما په اړه هېڅ فکر نه کوي، دوی په هغه څه فکر کوي چې هغه په ما پورې هېڅ تړاو نه لري.

(برایان ټریسي - امریکایي لیکوال او ویناوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۱۸»



په ژوند کې له زیاتو ستونزو او توپانونو سره مخ شوی یم، خو په بریالیتوب تړي راوتلی یم؛ ژوند دا راوښودل « ناخوالې، ستونزې، کړاوونه او خنډونه تل نه وي».

(ماني خوشبین – ایرانی میلیاردر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۹»



په ۱۹۹۵ ز کال کې مې په جیب کې یوازې ۷ ډالره درلودل، خو په دې وخت کې په دوو شیانو ډاډه وم، یو په دې چې ناکام(زیانمن) شوی یم، دویم په دې چې تل به په دې حالت پاتې نشم.

(ډواین جانسون – امریکایی فلمي لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۲۰»



جالبه ده! د ځينو خلکو لپاره به هر څه کوې، خو هېڅ مينه به درسره نه کوي، د ځينو لپاره به بيا هېڅ هم نه کوې، خو بېخي زياته مينه به درسره کوي.

(ويسوواوا شيمبورشا - پولنډۍ شاعره او ليکواله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۱»



یاد مې دي، یو وخت مې بوټ نه وو چې له ملګرو سره مې فوټبال کړی وای، هغه وخت مې له بې وسۍ او ناهیلۍ سخت وژړل، خو سبا مې یو څوک ولیدل چې پښه یې نه وه، وروسته په دې پوه شوم «زه تر ډېرو خلکو شتمن یم».

(زین الدین زیدان – د فرانسې د فوټبال ملي ټیم پخوانی لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۲۲»



لـه خلکـو سره بايـد دومـره مينـه وکـړو چـې مجبـور نـه شـو دا ورتـه ثابتـه کـړو چـې «احمـق نـه يـو» دلتـه چـې لـه چا سره څومـره زياتـه مينـه کـوی، هومـره ورتـه زيـات احمـق او سـاده ښـکاری.

(بروس ويليس – امريکايي فلمي لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۳»



جالبــه ده! څومــره چــې لــه خلکــو سره مینــه کــوم، هومــره د هغــو کســانو شــمېر زیاتېــږي چــې لــه مــا یــې بــد راځــي.

(کایلي جنر – د نړۍ تر ټولو ځوانه میلیونره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۲۴»



عـادت مـې دی؛ کلـه چـې کار پيلـوم، کوښـښ کـوم چـې پـه ښـه بڼـه يـې تـرسره کـړم، ښـايي همـدا د بريـا لپـاره بـس وي چـې خپـل کارونه پـه سـمه او فـوق العـاده بڼـه تـرسره کـړو.

(ډېوېډ بکام – د انګلیستان د فوټبال د ملي ټيم لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۵»





کله چې څوک رانه زما د بریا راز پوښتنه کوي، زه ورته وایم: «زما د بریا راز دا دی چې زه یو خوشبین او مثبت فکر لرونکی انسان یم، تر اوسه مې یوه شېبه هم د چا/شي په اړه منفي فکر نه دی کړی، حتی که یو څه بد او منفي هم وي، زه یې په اړه مثبت فکر کوم».

(جېف بېزوس – د امازون شرکت بنسټګر او د نړۍ تر ټولو شتمن کس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲٦»




څومره مې چې له خلکو سره ښه کړي، په هماغه اندازه یوازې شوی یم، نه پوهېږم چې دلته ولې د ښو بدله بد دي؟

(جمال ثریا – د ترکي ژبې مشهور شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۷»



ډېر وروسته پوه شوم چې دا مې هسې د وخت ضایع کول و چې د هغو خلکو لپاره به په ساعتونو د جملو په جوړولو بوخت وم چې د یوې کلمې ارزښت یې هم نه درلود.

(ایلهان برک – ترکي شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۸»



زمـا لپـاره دا عجيبـه ده، څـوک چـې پوهېـږي يـو هېـواد څنگـه اداره کېـږي، هغـوی پـه ټکسـي چلولـو يـا د وېښـتانو پـه اصـلاح کولـو بوخـت دي.

(وينستون چرچيل – برېټانوی ليکوال او سياستمدار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۲۹»



یوه ورځ مې یوه ملګري راته وویل:

- یو راز درته وایم، ساتلی یې شې؟

ما ورته وویل:

- نه! ته یې چې نشې ساتلی، زه به یې څنګه وساتم؟

(ګور ویدال – امریکایي لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳۰»



ډېر وخت مې فکر کولو چې تر ټولو بد شی یوازېتوب دی، خو وروسته پوه شوم چې داسې نه ده، حقیقت دا ده چې «تر ټولو بد د هغه چا په څنګ کې ژوند کول دي چې د یوازېتوب احساس راکوي».

(رابین ویلیامز – امریکایی کومېډین)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳۱»



زما په اند د حقیقي مینې یو راز دا دی «که په چا مین وو، له هغو هېڅکله هم دا ونه غواړو چې بدل شي».

(آلن دو باتن – بریتانوي لیکوال او ژورنالیست)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۳۲»



دا مې عادت دی، تر څو چې د چا ښه یا بد را ونه رسېږي، تر هغه یې په اړه هېڅ د ښه یا بد قضاوت نه کوم.

(اېریک فروم – الماني اروپوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۳۳»



ډېر کله دا وايم « بايد د ټولو خلکو نظرونو او عقايدو ته احترام ولرم» خو د ځينو نظرونو او عقايدو ته احترام مې د خپل شعور سپکاوی دی، بيا دا ښه بولم چې بايد داسې خلک اصلاح شي.

(انتوني هاپکينز – بريټانوی فلمي لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳۴»



زه لـه زنـدان او مرگـه نـه وېرېـږم؛ تـل بـه د خپـل هېـواد د خپلواکـۍ لپـاره مبـارزه کـوم، تـر دې چـې يـوه ورځ غـلام واوسـم؛ دا ښـه گڼـم چـې ټـول عمـر پـه زنـدان کـې وم.

(استاد محمد ياسر – د هېواد نامتو ديني عالم او جهادي شخصيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳۵»



یـو ورځ تـول مـرو، هلتـه خـدای(ج) دا نـه رانـه پوښـتي چـې لـه کـوم قـوم څخـه یـی؟ دا رانـه پوښـتي چـې خـدای دې څـوک دی؟ نبـي دې څـوک دی؟ دیـن دې څـه دی؟ نـو تعصب اخـر د څـه لپـاره؟ مـوږ تـول مسـلمانان بایـد پـه دې وویـاړو چـې مسـلمانان یـو، نـه پـر دې چـې مـوږ لـه فـلاني قـوم څخـه یـو.

(رجب طیب اردوغان – د ترکیې ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳٦»



د مینې په اړه زیات نه پوهیږم خو دومره پوهېږم چې مینه یانې دا چې «زه خپله ځاکم چې څوک مې ژوند تبا کړي».

(آرتور مېلر – امریکایي لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳۷»




باور وکړئ؛ ما مې د خپلو هیلو د رښتیا کېدو خوبونه په ماشومتوب کې لیدلي وو.

(زلاتان ابراهیموویچ – د سویډن د فوټبال ملي ټیم لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۳۸»



زه د قدرت او څوکۍ وږی نه یم، زما په وطن زړه خوږېږي، زما جنګ په قدرت او څوکۍ نه دی، ما تل ویلي، اوس هم وایم چې د سولې په خاطر نه یوازې له څوکۍ څخه تېر یم، بلکې له خپل ځان څخه هم تېر یم. انسان باید په خپلو خبرو او لفظ ولاړ وي، کاغذ شیرېږي، ژبه نه شیرېږي.

( شهید ډاکټر نجیب الله – د فغانستان پخوانی ولسمشر )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۳۹»




اصلي هنر د فاصلو مراعتول دي، که زيات يو بل ته نږدې شو، يو بل سوځو او که له يو بل نه زيات لرې شو، نو يخ مو وهي، په دې بايد پوه شو «څنګه يو سم او غوره ځای پيدا کړو او همالته پاتې شو».

(کريستيان بوبن – فرانسوي ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۰»



که له ما څخه څوک وپوښتي چې ته دې نړۍ ته د څه لپاره راغلی یې؟ زه به ورته ووایم: «زه دې نړۍ د دې لپاره راغلی یم چې ښه ژوند وکړم».

(امیل زولا – فرانسوي ناول لیکونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۱»




کله چې په ۲۰۱٦ ز کال کې په نړیوال جام کې ولوبېدم، په خپلو وړتیاوو مې باور پیدا شو، هغه وخت مې دا درک کړه چې کولی شم د کرېکټ تر ټولو ښه لوبغاړی شم، له هغه وروسته مې هڅه یو پر دوه کړه، د خپلو هڅو او مینه والو د تشویق په برکت دا دی نن د هېواد د کرېکټ ملي ټیم کې په پوره مینه او شوق لوبېږم.

(راشد خان – د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې ځوان لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۲»



زه لـه مـرګ څخـه نـه وېرېـږم، خـو لـه دې سـخته وېرېـږم  چـې لـه مرګـه وروسـته مـې ټـول هېـره کـړي، د همـدې وېـرې لـه املـه بایـد خپـل ولـس تـه داسـې څـه وکـړم چـې لـه مـرګ وروسـته مـې څـوک هېـره نـه کـړي.

(اوا پرون – د ارجنټاین پخوانۍ لومړۍ مېرمن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۳»



لـه موسـيقۍ او سـندرو سره مـې لـه ماشـومتوبه مينـه وه، هغـه وخـت مې د پـلار يـوه راډيـو وه، اصـول يـې دا وو چـې کلـه بـه مـو ډوډۍ خـوړه، نـو راډيـو بـه يـې خاموشـوله، کلـه بـه يـې چـې راډيـو خامـوش کـړه مـا بـه ژړل او پـلار تـه بـه مـې ويـل «راډيـو مـه خاموشـوه» هماغـه لېونـۍ مينـه مـې وه چـې د هـنر پـه ډګـر کـې پرتـه لـه دې چـې کـوم اسـتاد او رهنـما ولـرم، خپلـې موخـې تـه يـې ورسـولم.

(سردارعلي ټکر – د پښتو ژبې مشهور سندرغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۴۴»



په زندان کې مې غوښتنه وکړه چې يو جلد قران کريم راته راوړئ، راته يې وويل:

- نه، نه شي کېدای، دا کار منع دی.

هغوی په دې نه پوهېدل چې ۳۰ کاله مخکې مې قران کريم حفظ کړی، ټول مې په زړه او سينه کې دی، يوازې غوښتل مې چې قران کريم په لاسونو لمس کړم.

(محمد مرسي – د مصر پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۵»



ځینـې کسـان وایـي: «دروغ دي چـې خلـک لـه یـو بلـه بېلـوي» خـو دا خـبره حقیقـت نـه لـري، زه وایـم «دا حقیقـت دی چـې لـه یـو بلـه مـو بېلـوي» مـا چـې کلـه هـم چاتـه حقیقـت ویلـی، رانـه تللـي او یـوازې یـې پرېښـی یـم.

(چارلېز بوکوفیسکي – امریکایي لیکوال او شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴٦»




یـاد مـې دي کلـه چـې ۱۲ کلـن وم، پـلار مـې دری میاشـتې پیسـې جمـع کولـې، څـو وکولـی شي یـو جـوړ بـوټ راتـه واخلـي، زه اوس زیاتـې پیسـې لـرم، هـر ډول قیمتـي بـوټ رانیولـی شـم، خـو مـا تراوسـه هماغـه بـوټ سـاتلي دي، څـو تـل مـې دا پـه یـاد وي چـې «لـه کـوم ځـای څخـه مـې پیـل کـړی دی».

(اندرس اینیستا – د اسپانیا د فوټبال لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۷»



استادانو مـې تـل ویـل چـې (ټولنـه د معلوماتـو د حاصلولـو لپـاره تـر ټولـو ارزانـه او مهمـه وسـیله ده). دا حقیقـت دی، مـا پـه ښـوونځي او پوهنتـون کـې دومـره څـه نـه دي زده کـړي، څومـره مـې چـې لـه خپلـې ټولنـې زده کـړي. پـه دې بـاوري یـم «کـه د ټولنـې پـه بطـن او مـتن کـې ونـه اوسـم، نـه شـم کولـی چـې ښـه احسـاس ولـرم».

(ممنون مقصودي – د افغانستان د سینما مشهور ستوری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۴۸»



راته یې وویل: راځه د یو بل عقایدو ته درناوی وکړو
ما ورته وویل: دا چې پر یو بل کار ونه لرو، دا کافي ده
.
(البرت کامو – فرانسوي لیکوال او د نوبل جایزې ګټونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۴۹»



د ژوند په کړو لارو کې مې ځان بایلود، خو له خدای تعالی سره په مینه کې مې بېرته پیدا کړ، د لارې په اوږدو کې مې خپل هدف ورک کړ، خو په قرانکریم کې مې بېرته وموند، د خلکو په ګڼه ګوڼه کې راڅخه د لارې توښه ورکه شوه، خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترخنګ مې بېرته پیدا کړه.

(مصطفی السباعي – د سوریې نامتو لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۵۰»




له ۱۵ کلونو را په دېخوا زه کار کوم، ما خپل ځان ته د يوه ړانده سړي چې په يوه ړانده پړانګ سپور دی، خطاب کړی. کومو تجربو لرونکو او پوهو کسانو چې اسونه ځغلول، هغوی ټول ولوېدل. موږ روغ پاتې شو؛ ځکه چې موږ د راتلونکي په اړه اندېښنه کې وو. موږ په راتلونکي باور وکړ، موږ خپلو ځانونو ته بدلون ورکړ.

(جک ما – د چين تر ټولو شتمن او د علي بابا شرکت بنسټګر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۵۱»



په دری کلنۍ کې مې پلار پرېښودم، د سختو ستونزو له امله مې تر ځلورو کلونو زیات ښوونځي ته دوام ورنه شو کړای، په یوه ټرافیکي پېښه کې مې مېرمن او اولادونه له لاسه ورکړل، خو بیا هم ناهیلی نه شوم، ژوند ته مې دوام ورکړ، زما په اند «ژوند زغم او مبارزه ده».

(کیانو ریوز – د امریکا د سینما وتلې او بریالۍ څېره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۵۲»




هـر سـفر او هـره لوبـه راتـه تجربـه ده، پـه هـره لوبـه کـې نـوی څـه زده کـوم، سربېـره پـردې ښـایي زمـا د بریـا او پرمختـګ سـبب دا هـم وي چـې کلـه د لوبـې میـدان تـه ځـم، یـو ډول غـرور کـوم؛ یانـې د اللـه شـکر ادا کـوم چـې افغـان یـم او د ټولـو افغانانـو لپـاره لوبـه کـوم، دا غـرور یـو ډول انـرژي او قـوت راکـوي چـې پـه برکـت یـې خپـل سـیال او رقیـب تـه ماتـې ورکـوم.

(احمد ولي هوتک – د ازادو سیالیو یا فري فایټ افغان لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۵۳»




يـوه ورځ سـخت غوسـه شـوم، زياتـې احمقانـه خـبرې مـې وکـړې، خـو کلـه چـې پـوه شـوم خـبره هغسـې نـه وه څنګـه چـې مـا فکـر کـړی و، هماغـه وخـت مـې لـه ځـان سره وويـل: «بايـد د پرمختـګ او هـدف تـه د رسـېدو لپـاره هېڅکلـه هـم غوسـه نشـم، کـه د غوسـې زولنـې ماتـې نـه کـړم نـو د خپـل نفـس پـه غلامـۍ کـې بـه ومـرم».

(مارتين لوتر کينګ ـ په امريکا کې د بشري حقونو ستر فعال او د عدم تشدد د لارې مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۵۴»



نــه غــواړم ډېــر وخــت مــې پــه توضيــح کولــو ضايــع کــړم، ډېــر خلــک هغــه څــه اوري چــې خوښــېږي يــې، نــه هغــه څــه چــې زه يــې وايــم.

(پاولو کويلو – برازيلي ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۵۵»




پـلار مـې تونـد او تریـخ انسـان و، هغـه د نیوکـې زغم نـه درلـود، د پلار د دې چلـن پـه لیـدو دې پایلـې تـه ورسـېدم چـې «د ننګولـو پرځـای بایـد د صـبر او زغـم څخـه کار واخلـم» همـدا وو چـې پـه سـختو حالاتو کـې د نـړۍ پـه کچـه لـه ډېـرو مشرانـو سره کار وکـړم.

(زلمی خلیلزاد – د افغانستان، عراق او ملګرو ملتونو لپاره د امریکا پخوانی سفیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «٥٦»



کله چې څوک رانه ځي، نه خپه کېږم؛ ځکه پوهېږم دوی په دې کار سره هغه درسونه را زده کوي چې ښايي د دوی په شتون کې مې هېڅکله نه وای زده کړي.

(خسرو شکېبايي – د ايران د سينما بريالۍ څېره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۵۷»



ښـايي د ځنيـو پېښـو د رامنځتـه کېـدو مسـوول نـه وم، خـو د هـرې پېښــې پـر وړانــدې د غبرگــون او چلنــد مســوول يــم. مثـلاً کـه زه پرځمکـه راپرېوځـم، ښـايي پـه دې کـې زمـا قصـور نـه وي، خـو چـې پرځمکـه همداسـې پـروت پاتـې شـم، د دې بيـا سـل پـه سـلو کـې مســوول يــم.

(انتوني رابېنز – امريکايي ويناوال او ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۵۸»




په لومړۍ مسابقه کې مې دا دعا وکړه چې لوبه موږ وګټو، خو لوبه موږ ونه ګټله، پوه شوم چې مقابل ټیم هم خدای لري، له هغه وروسته مو هڅه یو پر دوه کړه چې لوبه وګټو.

(الکس فرګوسن – د برېټانیا د فوټبال ټیم روزونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۵۹»



ژونـد دا را زده کـړل؛ ډېـر وخـت هغـه څـه ژر لاسـه ورکـوم چـې بـاور مـې لرلـو «هېڅکلـه بـه يـې هـم لـه لاسـه ور نـه کـړم».

(توماس استرنز اليوت – امريکايي ليکوال او کره کتونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۶۰»



زه ښکلی نه يم، خو د هغه چا تل لاسنيوی کوم چې مرستې ته اړتيا لري، حقيقي ښکلا په څېره کې نه، په زړه کې ده.

(ډاکترعبدالکلام – د هند پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «٦١»



زه په کومه شتمنه کورنۍ کې نه یم زېږېدلی، زه مې مور په یوازې ځان رالوی کړی یم، هغې به خپله خېټه د کوپون په خوړو مړوله، خو ماته یې په ښوونځي کې د زده کړو لپاره زمینه برابره کړې وه. هغه وخت مې د زده کړو لپاره یو څه پور تر لاسه کړ، چې زده کړو ته دوام ورکړم. هغه پور څو کاله وړاندې ما او مېرمنې(مېشل) مې په ګډه خلاص کړ، لنډه دا چې «بېوزلي او غربت هېڅکله د پرمختګ او بریالیتوب خنډ نشي کېدای».

(باراک اوباما – د امریکا پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «٦٢»



ما مې په زېږون کې رول نه درلود او په خپل مرګ کې هم رول نه لرم، زما رول یوازې زما په ژوند کې دی، په ژوند کې مې چې څه کوم یا څه پېښېږي، د هغو ټولو مسوول زه یم.

(یوهان ولفګ ګویته – د المان نومیالی لیکوال او شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «٦٣»



په ژوند کې مې لویه تېروتنه دا وه چې فکر مې کاوه، «که په چا کار ونه لرم، هغوی به هم په ما کار ونه لري» خو داسې نه وه، تر ټولو زیات هغو خلکو زیان را رسولی چې هېڅ کار مې ورسره نه درلود.

(ووډی الن – امریکایي لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «٦٤»



لـه مانـه زیاتـه دا پوښـتنه کېږي چـې کـه د بریـا لپـاره یـوه ځانګړنـه کافي وي، هغـه بـه څـه وي؟
زمـا ځـواب ورتـه دا دی؛ «لومـړی خـو دغـه ډول یـوه ځانګړنـه نشـته، بریالیتـوب د ځانګړنـو یـوه ټولګـه غـواړي، خـو کـه دغـه ډول ځانګړنـه وای، زمـا پـه انـد هغـه بـه استقامت و».
(شیو کهرا – هندی لیکوال او ویناوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «٦٥»



کله چې نیکي کوم، د خوښۍ احساس کوم، کله چې بدي کوم، د گناه او شرم احساس کوم، بس همدا مې دین دی.

(ابراهام لینکلن – د امریکا پخوانی ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «٦٦»



له دښمنانو نه مې څه په یاد نه لرم، خو له دوستانو مې بدې خاطرې لرم.

(عباس کیارستمي – ایراني لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



«٦٧»




عـادت مـې دی؛ لـه سـلو هغـو لاملونـو يـې پـر يـوه هـم فكـر نـه كـوم چـې زمـا د ماتـې سـبب كېـږي، يـوازې پـر يـوه هغـه لامـل فكـر كـوم چـې زمـا د بريـا سـبب كېـږي.

(هنري فورډ – امريكايي ليكوال او مخترع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «٦٨»



له هر چا مې چې تمه لرلې ده، ناهيلی او خپه کړی يې يم، پوه شوم چې «تمه» مې ترټولو ستر دښمن دی، که له چا تمه او هيله ونه لرم، ټول به مې دوستان او ملګري وي، تل به ترې خوشاله وم.

(رابندراناټ ټاګور – د هند ستر شاعر، متفکر او د نوبل جايزې ګټونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «٦٩»



زه تـل پـه دې بـاور وم چـې یـو وخـت بـه د نـړۍ سـتر شـتمن وم، حتـی پـه دې اړه مـې یـوه دقیقـه هـم شـک نـه دی کـړی، څنګـه مـې چـې بـاور و، هماغسـې وشـول. مانـا دا چـې «انسـان چـې پـه څـه بـاور لـري، هماغـه کېـږي».

(وارن بافت – امریکایي میلیاردر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۰»



ځینــې وختونـه بایـد دروغـو تـه رښــتیا او رښــتیا تـه دروغ ووایـو، ژونـد پرتـه لـه فریـب خوړلـو نـه تېرېـږي.

(فروغ فرخزاد- ایرانی شاعره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۷۱»



زه یو خصوصي ژوند لرم، هیچا ته اجازه نه ورکوم چې په هغه کې مداخله وکړي، زما په فکر همدا د انسانیت غوښتنه هم ده چې «باید د هرچا خصوصي ژوند ته احترام وشي».

(ویلادیمیر پوتین – د روسیې ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۲»



زما لپاره بریا دا ده چې سهار مې د کوچنیانو په ښکلولو پیل کړم او ماښام له خپل خاوند او ورو سره په ګډه تېره کړم. له دې هرڅه سره سره نه غواړم چې خپلو کارونو ته شا کړم.

(ایوانکا ټرمپ – د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ لور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۳»



خپه نه یم چې څوک مې هڅې نهویني او هنر مې نه درک کوي، لمر چې راخېژي، ډېر خلک ویده وي، ډېر کم خلک د لمر ځرک ننداره کوي.

(جان لېنون – د انگلیستان مشهور سندرغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۴»




زه په څینو ازموینو کې ناکام شوم، خو ټولو ملګرو او دوستانو مې په بریالیتوب سره زده کړې پای ته ورسولې، هغوی اوس د مایکروسافټ په شرکت کې انجینران دي او زه د مایکروسافټ د شرکت موسس(بنسټګر) یم، زه لوړې زده کړې بدې نه بولم، خو دا بده بولم چې څوک تر لوړ فکر، لوړو زده کړو ته ترجیح ورکوي.

(بېل ګېټس - د مایکروسافټ کمپنۍ بنسټګر او د نړۍ دویم شتمن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۷۵»




کله مې چې ځوک پرېږدي، مخه یې نه نیسم. دا راته ښه ثابته شوه «ځوک مې چې پروا نه لري، هغوی مې یوازې پرېږدي او ځوک مې چې یوازې پرېږدي، هغوی مې هېڅ درد نه شي دوا کولی» که مې ځوک له ژونده ځي، ورته وایم: «دروازه دې پرمخ خلاصه ده، تللی شې».

(رومن ګاري – فرانسوي لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷٦»



زما او د عـادي خلكـو ترمنـځ توپيـر شـمتني او شـهرت نـه، بلكـې زيـار او هڅـه ده. زه هـم يـو وخـت عـادي كـس وم، شـتمني او شـهرت مـې نـه درلـودل، خـو نـن چـې كومـه شـتمني او شـهرت لـرم، دا مـې ټـول د كار او زيـار بركـت دى. يانـې «دا زيـار او هڅـه ده چـې بريـالي خلـك لـه عـادي خلكـو بېلـوي».

(سټيو جابز – د اپل شركت مشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۷»



زمـا پـه انـد هوښـیار او پـوه انسـان پوهېـږي چـې ژونـد ښـکلی دی؛ ځکـه چـې موخـه یـې نېکمرغـي او سـل پـه سـلو کـې خوښـي ده، خو زه نـه پوهېـږم چـې ولـې احمقـان تـر هوښـیارانو زیـات خوشـاله وي؟

(اورهان پاموک – ترکي لیکوال او د نوبل جایزې گټونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۷۸»



کله چې په ژوند کې له ستونزو او خنډونو سره مخ کېږم، نو له ځان سره وایم: «دا مې د بریا پر وړاندې خنډ نه، بلکې دا مې د موخو د مسیر یوه برخه ده».

(جول اوستین- امریکایي لیکوال اوویناوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷۹»



چاته چې خپل احساسات بیانوو، په حقیقت کې هغوی ته دا ورښیو چې «څوک ځنگه زیان را ورسوي».

(چارلي چاپلین- د نړۍ مشهور کومېډین)

(c) ketabton.com: The Digital Library



«۸۰»




په ژوند کې مې له سترو تېروتنو یوه تېروتنه دا وه چې «په هر کار کې مې د چټک پرمختګ او بریالیتوب انتظار ایست» دغه کار تل مات کړی یم، ډېر وروسته پوه شوم چې زه باید صبر او زغم زده کړم، بریا او پرمختګ زغم او وخت ته اړتیا لري.

(جان. سي مکسوېل- امریکایی لیکوال او ویناوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۸۱»




په ژوند کې کله ناکله غریبي او بېوزلي دې حد ته رسېږي چې له خپلوانو، دوستانو او سیالانو سره د سړي رشتې او اړیکې پرې کوي «په ژوند کې غربت او بېوزلي زیاته دردوونکې ده، زیاته».

(ویکتور هوګو – فرانسوي لیکوال او شاعر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۸۲»



ویـل کېـږي، چـا چـې ځـان وپېژانـده، ټـول خلـک یـې وپېژنـدل، خـو زه وایـم «چـا چـې لـه خلکـو سره مینـه وکـړه، ځـان یـې وپیژانـده».

(جبران خلیل جبران – لبنانی لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۸۳»



ځـواک او قـدرت پـه دفـاع کـې نـه پـه برید کـې دی، پـه سـختو او سـتونزمنو شرایطـو کـې بایـد لـه دفاعـي حالتـه ووځـو او بریـد وکـړو، کنـه بیـا مـو دښـمن بریـد کـوي او لـه منځـه مـو وړي.

(اډولف هېټلر – د المان پخوانی دیکتاتور ولسمشر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۸۴»




په دې زيات افسوس کوم او ډېره پښېمانه يم چې په ژوند کې مې چا ته په کافي اندازه دا ونه ويل چې «مينه درسره لرم».

(يوکو اونو – چاپانی سندرغاړې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۸۵»



زه د ټولـو هغـو خلکـو څخـه مننـه کـوم او پـوروړی یـم چـې ماتـه یـې (نـه) ویـلي؛ ځکـه زه یـې هڅولـی یـم چـې هغـه کار پـه خپلـه وکـړم چـې لـه دوی څخـه مـې غوښـتل «راتـه ویـې کـړي».

(وین ډایر- امریکایي ارواپوه او میلیونر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۸٦»



د مسلمانانو دا ناپوهي لکه مړي خدای(ج) ته واسطه کول، له قبرونو سره اړیکې پالل، په قبرونو خواږه پخول، د هغوی په قبرونو اوښکې تویول او یا له مړیو څخه وېرېدل مې سخت ځوروي، دوی په دې نه پوهېږي چې مړي ځان ته ګټه او زیان نشي رسوی، نو دوی ته به څه ګټه یا زیان ورسوي.

(محمد العریفي – معاصر عرب لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۸۷»





کله مې چې د فېسبوک جوړولو چارې پيل کړې، زه ۱۹ کلن وم، هغه وخت د سوداګرۍ په اړه هېڅ نه پوهېدم، زما په اند «مهمه نه ده د کاروبار د پيل لپاره تاسې په سوداګرۍ پوه شی، مهمه دا ده چې ته يو کاروبار پيل کړې، بيا پخپله پوهېږې چې څنګه يې پرمخ بوځې او بريالی يې کړې».

(مارک زاکر برګ- د نړۍ تر ټولو ځوان ميليارډر او د فېسبوک بنسټګر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۸۸»



خلک وايي: «انسان چې کله زړېږي، نه مينېږي»، خو زه وايم: «کله چې انسان مين وي، نه زړېږي». پاکه او ريښتني مينه انسان ته ژوند او خوښي ورکوي.

(گابرېل گارسيا مارکز – د کلمبيا وتلی ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۸۹»



کلونـو مـې دا هڅـه کوله چـې سبا بـه يـې پيـل کـړم، خـو سـبا تـل رانـه يـوه ورځ لـرې و چـې نيـم عمـر مـې تېـر شـو، پـه دې پـوه شـوم چـې «بايـد همـدا اوس يـې پيـل کـړم».

(ډيل کارنګي – امريکايي ليکوال او ويناوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۹۰»



تـل مـې فکـر کاوه چـې ټـول خلـک د جګـړې مخالـف دي، خـو وروسـته پـوه شـوم چـې د جګړې پلويـان هـم شـته پـه ځانګړې توګـه هغـه کسـان چـې مجبـور نـه دي پـه جګـړه کـې برخـه واخـلي.

(اريش ماريا رمارک – الماني ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۱»




تــر خوشــالېدو، خپــه کېــدل اســانه دي، زمــا هغــه خلــک هېــڅ نــه خوښــېږي چــې تــل اســانه لارې انتخابــوي.

(انا ګاوالدا – فرانسوی رومان لیکونکې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۹۲»



له هغه چا نه وېرېږم چې زر حرکتونه یې یو ځل تمرین کړي وي، خو له هغه چا وېرېږم چې یو حرکت یې زر ځلې تمرین کړی وي.

(بروس لي – چنايي فلمي لوبغاړی او د سپورټ د نړۍ مشهوره څېره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۳»



کولی شم په هغه څه کې چې باید ویې نه وینم، سترګې خښې کړم، خو هغه څه چې زړه مې یې نه غواړي، نه شم کولی په هغه پورې زړه وتړم.

(جاني ډپ - د امریکا د سینما لوبغاړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۴»



زه په ژوند مین یم، په دي خاطر نه چې له ژوند سره عادت شوی یم، بلکې په دي خاطر چې له مینې سره عادت شوی یم، که انسان له مینې سره عادت شي، هرڅه ورته ښه او ښکلي ښکاري.

(فریدریش نیچه – المانی شاعر او فیلسوف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۹۵»



ما دا زده کړل چې «په ژوند کې تر تمرکز مهم څه نشته، تمرکز نه یوازې د یو شرکت یا کمپنۍ پر کنټرول او اداره، بلکې په شخصي ژوند کې هم زیات مهم دی».

(تیم کوک – د اپل کمپنۍ مدیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۶»




خلـک وایـي؛ یوازېتـوب نـاوړه پدیـده ده، خـو زه چـې څومـره خلـک پېژنـم هومـره راتـه یوازېتـوب خونـدور او پـه زړه پـورې کېـږي.

(اوریانا فالاچي – ایټالیوۍ لیکواله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۷»




زه هېڅوک او هېڅ شی نه مسخره کوم، خو دا قدرت او وړتیا لرم «هر څوک\شی چې نشم درک کولی، هغه ته احترام لرم».

(هاینریش بل – الماني لیکوال، شاعر او د نوبل جایزې ګټونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۸»



زړه مېلمستون نه دی، چې خلک راشي دوه درې ساعته په کې وي بيا ځي، زړه د مرغۍ ځاله هم نه ده چې پسرلي کې يې مرغان جوړه کړي او منې يې ببرته له ځان سره يوسي، د زړه په اړه زه زيات نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې «زړه د ښو خلکو ځای دی».

(نادر ابراهيمي – د ايران معاصر ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «۹۹»



کله چې کوچنی وم، ځینې خلک راته ډېر لوی ښکارېدل، نو زیات به ترې ورېدم چې کله لوی شوم، پوه شوم چې هغوی څومره کوچني دي او څومره زیات ترې ورېدم.

(الفرد هیچکاک – د بریټانیا د سینما مشهوره څېره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۰۰»



زه چې لـه چا سره مينـه لـرم، بيـا يـې پـه اړه قضـاوت نـه کـوم، يانـې دا راتـه مهمـه نـه ده چـې «هغـه د مهـم شـخص وي».

(ژان پل سارتر- فرانسوي فيلسوف)

**-پـای-**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**